
ورځپاڼه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
شنبه د ذوالقعده الحرام ۱۹ مه ۱۴۴٦ق کال | د غویي ۲۷ مه ۱۴۰۴ ل کال | د مي ۱۷ مه ۲۰۲۵م کال | خصوصي ګڼه ۴۵ مه | پرله پسې ګڼه ۷۰۸ مه ، اتمه دوره

# کندهار کې څه باندې ۱۷۷زره جریبه ځمکه دولتي تثبیت شوه

د کندهار سیمه ییز مسئولین وایي: له تېر کال راهیسې د دغه ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۴۱۲ زره جریبه ځمکه ارزولې، چې څه باندې ۱۷۷ زره جریبه یې دولتي تثبیت شوې او له ۱۹ زره جریبه زیاته له غصبه خلاصه شوې ده. مسئولین زیاتوي،چې له غصبه له خلاصېدونکو ځمکو به د بېلابېلو موخو لپاره ګټه واخیستل شي.د کندهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مرستیال، شمس الرحمن موسی وایي: ((تېر ۱۴۰۳ هجري شمسي کال کې د غصب د مخنیوي کمیسیون د تخنیکي پلاوي له لوري په ټول ولایت کې د ۴۱۲ زره جریبه ځمکې ارزونه شوې، چې څه باندې ۱۷۷زره جریبه یې دولتي تثبیت شوې.)) هېوادوال بیا له اسلامي امارته غواړي، چې له غصبه خلاصې شوې ځمکې د کډوالو د سرپناه ترڅنګ د عمراني چارو لپاره ځانګړې کړي. د اسلامي امارت د ځمکو د غصب د مخنیوي کمیسیون ویلي: تاکل شوې په راتلونکي کې د اسلامي امارت په اداره کې د ((اراضۍ او غصب شویو ځمکو د راګرځولو )) په نامه نوی وزارت هم په کار پیل وکړي.


# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاتارستان او موردوویا له ولسمشرانو سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د کازان د ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم په پرانیستغونډه کې له ګډون وروسته د دغه فورم په څنډه کې د تاتارستان له ولسمشر رستم مینیخانوف سره کتلي دي.ارګ په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې د دغې کتنې پرمهال دواړو لورو پر دوه اړخیزو اقتصادي او سوداګریزو اړیکو او همدارنګه په افغانستان کې د تاتارستاني پانګوالو پر پانګونې خبرې کړې. ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان له ولسمشر څخه منته کړې، چې د روسیې او اسلامي نړۍ تر سرلیک لاندې د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې یې د اسلامي امارت پلاوي ته د ګډون بلنه ورکړه... ۳مخ

# د کابل او نوي ډېلي ترمنځ د همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وشو

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي او د هند د بهرنیو چارو وزیر جې شنکر تېلفوني خبرې وکړې.په دې مکالمه کې د



دوه اړخیزو اړیکو پر پیاوړتیا، سوداګرۍ او د ډیپلوماتیکو اړیکو د کچې پر لوړولو خبرې وشوې. د هېواد د بهرنیو چارو وزیر هند د سیمې مهم هېواد او له افغانستان سره یې اړیکې تاریخي وبللې او هیله یې څرګنده کړه چې دا اړیکې به لا پیاوړې شي. د بهرنیو چارو وزیر د متوازن سیاست ... ۳مخ

## د ملګروملتونو ځانګړې استازې:

# افغانان جګړو ځپلي او باید لاسنیوی یې وشي


په افغانستان کې د ملګروملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې روزا اوتنبایېوا میدانوردګو ته د سفر پرمهال د دغه ولایت پر والي قاري بختیار معاذ سربېره د یوشمېر ادارو له مسئولینو او په نرخ ولسوالۍ کې له روغتیایي مرکزونو څخه لیدنه کړې ده. په یاده لیدنه کې د میدانوردګو والي قاري بختیار معاذ وویل: دغه ولایت کې د نړیوال بانک ۳۰۰ پروژې نیمګړې پاتې دي او اړتیا ده چې یادې پروژې ژر تر ژره بشپړې شي. ده وویل: اوس د هېواد په کچه سراسري امنیت ټینګ شوی او د ملګروملتونو اړوندو نړیوالو بنسټونو او



موسسو ته پکار ده ، چې په دغه ولایت کې د روغتیا، پوهنې، کرنې، بشري مرستو او بیارغونې برخو کې خپلې هڅې او پروژې دوه برابره کړي. بلهخوا افغانستان کې د ملګروملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې روزا اوتنبایېوا ویلي: افغانان د تېرو څلورو لسیزو جنګ جګړو له امله سخت زیانمن شوي او اړتیا ده ، چې په بېلابېلو برخو کې د افغانانو لاسنیوي وشي.اوتنبایېوا ټینګار وکړ ،چې هڅه کوي د بشري مرستو او پراختیایي او کاري فرصتونو برابرولو برخه کې د نړیوالو بنسټونو مرستې راجلب کړي.دې همدارنګه د میدانوردګو په نرخ ولسوالۍ کې له روغتیایي مرکزونو او پراختیایي پروژو هم لیدنه کړې ده.

# د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر کابل ته راځي

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي او د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر مرات نورتلیف ټیلیفوني خبرې کړې دي .په دې مکالمه کې د دوه اړخیزو اړیکو پر پیاوړتیا، د سوداګرۍ او ټرانزیټ پر پراختیا او د دیپلوماتیکو اړیکو د کچې پر لوړولو خبرې شوې دي. هېواد د بهرنیو چارو وزیر قزاقستان د مرکزي اسیا مهم هېواد یاد کړ او هیله یې څرګنده کړه، چې له رامنځته شویو ظرفیتونو څخه په استفادې باید دواړه هېوادونه د سیمې د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره ګډ کار ته ادامه ورکړو.مولوي امیر خان متقي له قزاقستان سره د افغانستان اړیکې مهمې بللي او ګڼو برخو کې یې د همکاریو پراختیا ته خپله ژمنتیا تکرار کړې.د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر د بهرنیو چارو وزارتونو په سطحه د دوه اړخیزو اړیکو د زیاتوالي غوښتنه کړې، نوموړي همدا راز ویلي چې



په نږدې راتلونکي کې به په یو رسمي سفر کابل ته راشي. ښاغلي نورتلیف څرګنده کړې... ۳مخ

# د واخان سړک د دوهم فاز د رغولو چارې پیل شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري د بدخشان فاز چارې پیل شوې.وزارت وایي: دغه سړک ۷۱ کیلومتره



په واخان ولسوالۍ کې له بروغیل څخه تر بزهای ګنبد پورې د جغلي سړک د دوهم اوږدوالي او ۸ متره سور لري چې چارې یې د یوه قراردادي شرکت له خوا ترسره کیږي. خبر پاڼه کې راغلي، چې د دغه سړک د لومړي فاز خامه چارې د چین هېواد تر صفري نقطې رسېدلي او ساختماني چارې یې په چټکۍ سره رواني دي.
وزارت زیاته کړې، چې د واخان سړک د ډیزاین چارې د افغان انجنیرانو په هڅو ترسره او تخنیکي چارې یې هم دوي په مخ وړي.د یادونې وړ ده، چې د واخان سړک دوهم فاز د ۷۱ کیلومتره اوږدوالي په لړلو سره د ۱۴۳ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي.

# د کوه صافي ولسوالۍ د جوزک کلي سړک د ماهیپر له عمومي سړک سره و نښلول شو

د پروان ولایت ځایي مسئولین وایي چې د دغه ولایت د کوه صافي ولسوالۍ د جوزک کلي د ۲۲ کیلومتره سړک د جوړېدو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.
د یاد سړک د پرانیستې په مراسمو کې د پروان والي مفتي محمد ادریس انوري وویل چې د دغه سړک جوړول نه یوازې د دې سیمې د خلکو ټرانسپورټي ستونزې حل کوي... ۳مخ

# د کاسا زر پروژې د چارو د چټکتیا په موخه هوکړې وشوې

د افغانستان برښنا شرکت خبر ورکړی، چې د کاسا ۱۰۰۰ پروژې تاجکستان او پاکستان هېوادونو د برښنا وزیرانو ترمنځ د یادې




ناستې په پای کې د افغانستان برښنا شرکت پلاوي او قرغزستان، پروژې د چارو د چټکتیا په موخه یو شمېر ... ۳مخ

# فراه کې د خوارځواکو ماشومانو لپاره ۱۰ بستریز مرکز جوړېږي

د فراه ولایت د عامې روغتیا ریاست مسئولینو خبر ورکړي، چې د دغه ولایت په پرچمن ولسوالۍ کې د یونیسف صندوق په مالي ملاتړ د ۱۳ میلیونو افغانیو په لګښت د خوارځواکو ماشومانو لپاره یو ۱۰ بستریز مرکز جوړېږي. د یاد ولایت د عامې روغتیا رئیس مولوي شیخ میر صدام رسنیو ته ویلي، چې دغه مرکز به ۶ خونې، یو دهلیز، د ښناک پاکو اوبو او لمریزې برښنا سیستم ولري... ۳مخ

# هرات کې یوه کارخونه د ورځې ۴۰۰ کولرونه تولیدوي



د هرات په صنعتي ښارګوټي کې د اوبوکولرو د تولید د یوې کارخونې مسئولین وایي، چې یادې کارخونه کې په ورځنۍ توګه څه باندې ۴۰۰ کولرونه تولید او بازار ته یې وړاندې کوي.د افغان ابتکار په نوم د یادې کارخونې رئیس محمدیونس احمدي رسنیو ته ویلي، چې د یادې کارخونې پر جوړولو یې ۴۰ میلیونه افغانۍ پانګونه کړې او په وینا یې، شاوخوا ۳۰۰ کسانو ته یې، په‌کې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه د کارکولو زمینه برابره کړې ده. نوموړي ټینګار کوي چې د یادې کارخونې د تولید... ۳مخ

# خوست کې د ((کوارتز)) منرال نوی کان کشف شوی



د خوست محلي مسئولین وایي، چې د یاد ولایت په شمل دوه منده ولسوالۍ کې د کوارتز منرال کان کشف شوی دی.د خوست ولایت مقام څخه په استول شوې خبرپاڼه کې ویل شوي،چې د یاد ولایت د کانونو ریاست د انجنیري ډلې له لوري په شمل دوه منده ولسوالۍ کې ... ۳مخ

# د ښاري طرحو د روڼتيا لپاره د معلوماتو خپرولو فرمان؛ د خلکو د باور لپاره يو مثبت ګام او د حساب ورکولو غوره لاره ده

د افغانستان اسلامي امارت د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله له لوري د ښاري طرحو د روڼتيا او عامه خبرتيا لپاره د معلوماتو خپرولو فرمان، يو پر وخت، اغېزناک او له مثبتو پايلو ډک اقدام دی.
دغه فرمان ښيي، چې اسلامي امارت د ښاري پراختيا په برخه کې شفافيت، ټول شموله اطلاع رسوني او خلکو ته د اطلاعاتو د لاسرسي حق ته ژمنتيا لري.
په فرمان کې دا ټينګار شوی، چې د کور جوړولو او ښاري پراختيا اداري، کابل ښاروالۍ او ولايتونه بايد د رسنيو، جوماتونو، ګذر وکيلانو او نورو موټرو لارو له لارې د ښاري طرحو اړوند معلومات له خلکو سره شريک کړي.

**د هغو سيمو لپاره، چې ښاري ساحو ته داخلې شوي، خو لا تفصيلي پلانونه نه لري، دغه فرمان دا مسئوليت پر اړوندو ادارو ور اچوي، چې ژر تر ژره مشخص پلانونه ورته جوړ او خلکو ته يې وړاندې کړي.**

دا کار نه يوازې د طرحو د شفاف تطبيق سبب ګرځي، بلکې خلک په خپلو سيمو کې له روانو پراختيايي پلانونو هم خبروي، د عامه باور فضا رامنځته کوي او د هر ډول اداري فساد يا شخصي مداخلې مخه نيسي.
د هغو سيمو لپاره، چې ښاري ساحو ته داخلې شوي، خو لا تفصيلي پلانونه نه لري، دغه فرمان دا مسئوليت پر اړوندو ادارو ور اچوي، چې ژر تر ژره مشخص پلانونه ورته جوړ او خلکو ته يې وړاندې کړي.
فرمان کې بل مثبت ټکی دا دی، چې د چارو اداري او د فرمانونو د تعقيب رياستونه مکلف شوي، ترڅو له دغه فرمان څخه دوامداره نظارت وکړي.
دا ښيي، چې فرمان يوازې يوه تشه اعلاميه نه ده، بلکې عملي تطبيق ته لاره هواروي، حساب ورکونه تضمينوي او د ناکامۍ په صورت کې مسئوليت مشخصوي.
پايله دا ده، چې د اسلامي امارت دغه اقدام د ښاري پراختيا، ښاري نظم، خلکو ته د شفافو خدماتو، د اداري فساد د مخنيوي او د باور جوړونې په لور يو مهم ګام دی.
تمه ده، چې ياد فرمان نه يوازې تطبيق شي، بلکې د ټول هېواد په کچه د ښاري پراختيا لپاره د يوه منظم، شفاف او اسلامي نظام د بنسټ ښکارندويي وکړي. باختر



# سرليکنه

## افغانستان له نړۍ سره د متقابل درناوي پر بنسټ اړيکې ټينګوي!!

کله چې افغانستان کې د امريکا په مشرۍ اشغالګرو ماته وخوړه، د اسلامي نظام د حاکميت او د هېواد د ازادۍ مبارزه برياليۍ شوه او د پرديو ګټو لپاره کارکوونکې اداري سقوط وکړ، پرځای يې يو ځواکمن اسلامي نظام واکمن شو. هغه مهال انګېرنې داوې، چې اسلامي امارت به له نړۍ سر د اړيکو د پياوړتيا برخه کې له يو لړ ستونزو سره مخ وي او په اقتصادي او سياسي برخو کې به د دوی په وينا منزوي او ناکام دولت وي؛ خو اسلامي امارت له پيله نړۍ سره د خپلو ديني او ملي ارزښتونو پر محور د ولاړو پراخو سياسي او اقتصادي اړيکو د رغولو پاليسي او سياست غوره کړ او په دې برخو کې يې رغوونکې هڅې هم وکړې.
نړۍ اوس افغانستان ته د يو واقعي اسلامي او خپلواک حکومت په سترګه ګوري، چې غواړي له هر هېواد سره د متقابل درناوي، اقتصادي پرمختګ او سياسي همکارۍ دروازې پرانيزي. په دې نويو شرايطو کې اسلامي امارت د خپل بهرني سياست پر بنسټ، له نړۍ سره د متقابل درناوي پر اساس د اړيکو د پياوړتيا لپاره بنسټيز ګامونه پورته کړي او يو تربله پر تلو راتلو برسېره يې په لوړه کچه مقاماتو تيلفوني خبرې هم کړې دي.
د بېلګې په توګه يې يادونه اړينه بولو چې د بهرنيو چارو وزير د هند د بهرنيو چارو له وزير سره د ټيلفون پر ليکه خبرې کړې، چې پکې د دوه اړخيزو اړيکو د پراختيا، سوداګرۍ، د وېزو د اسانتيا او د ډيپلوماتيکو اړيکو د لوړولو موضوعات مطرح شوي. همداراز ده له هند څخه غوښتي، چې افغان سوداګرو او ناروغانو ته د وېزو په برخه کې اسانتياوې رامنځته کړي او بايد د هند په زندانونو کې د بندي افغانانو ستونزو ته هم رسيدګي وشي. دواړو لوريو همداراز د چابهار بندر د پراختيا پر موضوع هم خبرې کړې، چې دا بندر کولای شي د افغانستان د سوداګرۍ لپاره يو مهم مسير وي
دغه راز د افغانستان د بهرنيو چارو سرپرست وزير د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير سره هم ټيلفوني اړيکه نيولې او د دوه‌اړخيزو اړيکو د پراختيا پر موضوعاتو يې خبرې کړې. قزاقستان چې د منځنۍ آسيا يو مهم هېواد دی، له افغانستان سره د اقتصادي همکاريو پراخ ظرفيت لري.
د قزاقستان د بهرنيو چارو وزير ژمنه وکړه ، چې ډېر ژر به کابل ته سفر وکړي او د تورغونډۍ، هرات رېل‌پټلۍ د جوړېدو لپاره به پنځه سوه ميليونه ډالره پانګونه وکړي. دا ژمنه ښيي چې د افغانستان اسلامي امارت نه يوازې د خبرو په ميدان کې پرمختګ کړی، بلکې د نړيوال باور ترلاسه کولو په برخه کې هم عملي پايلې تر لاسه کوي.
د دواړو هېوادونو ټيمونه ژمن دي چې په کابل او آستانه کې خپل کار ته دوام ورکړي او دا ښيي چې اړيکې له سياسي ژمنو څخه د عملي همکارۍ پړاو ته رسېدلې... ۳مخ

شنونکي:

# د اسلامي امارت اقتصاد محوره پاليسۍ هېوادونه له افغانستان سره اړيکو ټينګولو ته لېوال کړي

يو شمېر سياسي او د نړيوالو اړيکو مبصرين تاجکستان ته د برښنا شرکت د عمومي رئيس عبدالباري عمر په مشرۍ د اسلامي امارت د پلاوي سفر د افغانستان او تاجکستان ترمنځ په اړيکو کې يو مهم بدلون ګڼي. سياسي مبصرين د تاجکستان له‌خوا د اسلامي امارت د پلاوي منل د اسلامي امارت پر وړاندې د دغه هېواد په بهرني سياست کې يو مثبت بدلون ګڼي. د سياسي چارو مبصر روح الله هوتک په دې باور دي،چې تاجکستان نور بايد د افغانستان له داخلي بدلونونو لرې پاتې شي او بايد په افغانستان کې شته واقعيتونه ومني.دی ټينګار کوي،چې تاجکستان، د افغانستان د يوه نږدې ګاونډي په توګه، د خپلو اقتصادي او سياسي ګټو لپاره له اسلامي امارت سره د تعامل لارې چارې لټوي.(( تاجکستان تر اوسه پورې له اسلامي امارت سره په تعامل کې له نورو ګاونډيو او سيمه‌ييزو هېوادونو وروسته پاتې دی او دا سفر به د اسلامي امارت لپاره يوه لاسته راوړنه وي، ځکه چې دوی به وکولای شي له تاجک چارواکو سره د همکارۍ د پياوړتيا په اړه بحث وکړي.)) هوتک زياتوي، چې د سيمې له هېوادونو سره د افغانستان تعامل پراخ شوي او سياسي، امنيتي او اقتصادي پرمختګونو دا هېوادونه له افغانستان سره د اړيکو بيا پيلولو ته ډېر لېوال کړي دي.(( اوس مهال د افغانستان او د سيمې د هيوادونو ترمنځ اړيکې پراخې شوې دي، ځکه چې موږ په افغانستان کې په امنيتي، سياسي او اقتصادي برخو کې ښې لاسته راوړنې لرو، همدې مسائلو دا هېوادونه هڅولي چې له اسلامي امارت سره تعامل ته داخل شي او خپلې اقتصادي او سياسي ګټې خوندي کړي.)) له بلې خوا د سياسي چارو يو بل مبصر معين ګل څمکنی وايي: د اسلامي امارت د پلاوي سفر کولای شي د دواړو هېوادونو ترمنځ د نورو خبرو اترو لپاره نوي فرصتونه رامنځ‌ته کړي.دی هيله لري،چې دا سفر به د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو نوې دروازې پرانېزي، ترڅو افغانستان او تاجکستان د همکارۍ د پياوړتيا لپاره لازيات بحثونه وکړي.
(( تاجکستان ته د اسلامي امارت سفر ښيي ،چې د دواړو ګاونډيو هېوادونو ترمنځ اړيکې ښې شوې دي او افغانستان او تاجکستان دواړه کولای شي له دې سفر څخه ښه ګټه پورته کړي او خپلې رسمي اړيکې پياوړې کړي. دا سفر کولای شي د خبرو دروازې هم پرانېزي ،ترڅو دواړه خواوې لا ډېرې خبرې وکړي.)) په ورته وخت کې د اقتصادي چارو مبصر عبدالناصر رشتيا بيا وايي: د اسلامي امارت اقتصاد محوره پاليسۍ دا هېوادونه له افغانستان سره د اړيکو ټينګولو ته اړ کړي دي.
دی ټينګار کوي، چې تاجکستان د افغانستان له همکارۍ پرته د جنوبي آسيا بازارونو ته لاسرسي نه شي لرلی او له همدې کبله ده، چې دغه هېواد پريکړه کړې چې له افغانستان سره خپلې سياسي او اقتصادي اړيکې پياوړې کړي.( د افغانستان له همکارۍ پرته، تاجکستان نه‌شي کولای د برښنا په ګډون خپل محصولات د جنوبي آسيا بازارونو ته صادر کړي او اوس د دغه هېواد اقتصادي ګټې غوښتنه کوي، چې له افغانستان سره ښې اړيکې جوړې کړي، زه فکر کوم چې له افغانستان سره د تاجکستان اړيکې به ورو ورو عادي حالت ته راشي او پياوړې به شي.)) په همدې حال کې د افغانستان د برښنا شرکت عمومي رئيس عبدالباري عمر پر خپله اېکس پاڼه ليکلي چې تاجکستان ته د خپل سفر په جريان کې يې د دغه هېواد د انرژۍ له وزير سره کتلي دي.عمر ټينګار کړی، چې د کاسا زر پروژې په اړه غونډه کې پر ګډون سربېره يې د تاجکستان د انرژۍ له وزير دلير جمعه سره پر مهمو مسائلو بحث کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې د اسلامي امارت چارواکو له دې وړاندې له تاجکستان سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د ډيپلوماتيکو همکاريو د پياوړتيا خبر ورکړی و.

خلک:

# د کابل ښاروالۍ پراختيايي پروژې هيله بښونکې دي

په افغانستان کې د اسلامي امارت له حاکميته را وروسته څه کم ۴ کاله تېرېږي، په دې موده کې د کابل ښاروالۍ د آبادۍ، ښېرازۍ او په ښار کې د ګڼې ګوڼې د مخنيوي لپاره يو لړ پراختيايي پروژې پلې کړې دي.عام خلک د يادو پراختيايي پروژو له پلي کېدو خوښ دي او وايي: دغه پروژې د ګڼې ګوڼې د مخنيوي ترڅنګ خلکو ته د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هم مهمې دي. دوی له ښاروالۍ غوښتنه کوي ، چې په راتلونکي کې د يادو پروژو د تطبيق چارې په غور او له معيارونو سره سمې ترسره کړي. د کابل ښار يو تن اوسېدونکي روح الله وايي: « موږ ډېر خوښ يو، دا چې خلکو ته يې د کار زمينه برابره کړې او د ښار ګڼه ګوڼه يې کمه کړې ده .» د کابل ښار يو بل اوسېدونکي سيداکبر وايي: (( د کابل ښار نفوس ډېر، خو سړکونه يې کم دي. دا ښه ګام دی، چې ښاروالي پراختيايي پروژې پلې کوي، خو بايد خپلې چارې په چټکۍ ترسره کړي، ترڅو د خلکو د



تکليف سبب نه شي.))
د کابل ښار يو بل اوسېدونکي محب‌الرحمان وايي: (( موږ په تېرو درېوو کلونو کې د کابل ښاروالۍ له خوا ډېر ښه کارونه لرل، نوي سړکونه جوړېږي او دا خلکو ته د سهولت راتلو سبب کېږي او ورسره بيروبار کمېږي.))
د کابل ښار ځينې نور اوسېدونکي بيا د ښار پاکولو په برخه کې د ښاروالۍ له لږې پاملرنې شکايت کوي. د دوی په خبره، له ګڼې ګوڼې په ډکو سيمو کې د کثافتدانيو اېښودل د ناروغيو زېږنده دي او له مسئولينو غواړي چې د ښاري پراختيا په پام کې نيولو سره دې د ښار پاکۍ او نظافت ته جدي پاملرنه وکړي.
د کابل ښار اوسېدونکی محمد اجمل وايي: (( کله چې شمال وي، د کثافاتو بد بوي هرې خواته وړي. کثافتدانۍ له کثافاتو ډکې وي، خو ژر يې نه لېږدوي؛ د دې ځای ټول دوکانداران او لاس پلورونکي له دې بويه په تکليف دي.))
د کابل ښار يو بل اوسېدونکي باسه ګل وايي: (( له کابل ښاروالۍ غوښتنه کوم چې دا کثافتدانۍ له هغو ځايونو ټولې کړي چې د خلکو بيروبار زيات دي.))
کابل ښاروالي د ښار پاکولو لپاره د کافي بوديجې له ځانګړې کېدو خبر ورکوي او وايي: تل يې د ښار پاک ساتلو هڅې کړې دي.
د ښاروالۍ مسئولين له عامو خلکو هم غواړي،چې د ښار د پاکوالي لپاره دې کثافت او غځلې هر ځای نه بلکې... ۳مخ

# مهندسی اصطلاحات ابزاری برای تحمیل هژمونی

مجددی

برخلاف درک بسیاری از مردم که فکر می کنند زبان فقط یک وسیله برای برقراری ارتباط، بیان افکار و احساسات است، امروزه زبان در دنیای سیاست به عنوان یک سلاح نرم، اما برنده و هدفمند در سطوح ملی و فرا ملی استفاده میشود. سیاستمداران با استفاده هدفمند و گزینش دقیق و آگاهانه اصطلاحات در جریان کنفرانس های مطبوعاتی و سخنرانی های رسمی و غیر رسمی مخالفین خویش را تخریب و تضعیف می نمایند و با کمک رسانه های تحت حمایت و نفوذ شان و نیز شبکه های اجتماعی تلاش می ورزند که همان اصطلاحات را به حدی تکرار نمایند تا موجب آشنایی زدایی واقعبینانه عموم مردم در مورد شخص یا سازمان مخالف مورد نظر، تحمیل یا پنهان کردن اشتباهات و جرایم خویش و هم پیمانان، تزریق دیدگاه مورد نظر در اذهان و در نتیجه تحمیل هژمونی (مفهومیست که بر سلطه یک گروه، نظام یا ایدئولوژی بر دیگران نه فقط از راه زور بلکه با ایجاد رضایت و کسب مشروعیت اشاره میکند) بالای دیگران گردد.
مثال واضح این رویکرد را میتوان در سیاست خارجی غرب و هم پیمانانش در قبال نهضت های آزادی بخش فلسطین مانند حماس و رژیم صهیونیست تحت حمایتش مشاهده نمود. آنها با چنین سیاستی تلاش می ورزند مسیر را برای حمایت بی چون و چرا تسلیحاتی از رژیم صهیونیست، وضع تحریم ها بر فلسطین و انجام عملیات های ویژه هوایی و بمباردمان مناطقی در یمن که منجر به مرگ و میر هزاران انسان بی گناه به ویژه زنان و کودکان در غزه و یمن شد هموار نمایند، آنها درهنگام صحبت در مورد حماس از اصطلاح تروریست استفاده می نمایند تا در دید عموم حماس را ناقض حقوق بشر معرفی نمایند، در حالی که همه میدانیم حماس یک گروه متشکل از مبارزانیست که برای دفاع از سرزمین و ارزش های دینی و فرهنگی شان مبارزه می نمایند، اما در مقابل برای مشروعیت بخشیدن به رژیم متجاوز صهیونست که از متحدان غرب بشمار می رود غرب و سایر متحدانش آنرا حکومت نامیده و تجاوز، ظلم و نسل کشی آنرا حق دفاع مشروع میخواند. بنابر این زبان به عنوان سلاح نرم، اما برنده و کار آمد در دست سیاستمداران قرار دارد. آنها با استفاده از اصطلاحات حقیقت ها را تحریف می نمایند و افکار عمومی را آگاهانه جهت می بخشند. پس باید هوشیار بود و این بازی زبانی را درک نمود، چون در عقب این اصطلاحات توجیه های برای ظلم، نسل کشی، خونریزی، حق تلفی، حمایت از اشغال، تجاوز و نقض صریح حقوق بشر نهفته است.

# افغان اعلانات

## اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه مواد و اجرای احجام پروسه کاری امورات تهیه مواد و اجرای احجام پروسه کاری امورات ساختمانی اعمار جالی فینس و اعمار سرک بطول ٤۳۰ متر و ۳ عدد پلچک برای قوماندانی تعلیمات مشترک محاربوی از بابت سال مالی ۱۴۰۴دارای نمبر تشخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-امور ساختمانی-۰۱۳۷-۲۵۱۰۵) از روش داوطلبی باز نوع قرارداد به اساس پرداخت فی واحد اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر آفرها اخذ میگردد و آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDویا فلش) ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات از ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل دریافت نمایند همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده واطمینان خویش را حاصل نمایند.

تضمین آفر: بشکل گرانتی بانک مبلغ(٤۲۰۰۰۰) افغانی میباشد.

تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست ،صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

محل آفرگشائی: تالار آفرگشائی ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد تضمین آفر، توانمندی مالی، کار مشابه و حجم معاملات سالانه وسایراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

## اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه مواد واجرای احجام پروسه کاری امورات( ساختمانی , شبکه برق وشبکه ابرسانی بشمول سیستم فاضلاب داخلی وخارجی )اعمار وضوخانه و چاه سپتیک دوخانه ئی برای مسجد شریف قوماندانی لوای هوائی شیندند مقیم هرات مربوط قوماندانی عمومی قوای هوائی ومدافعه هوائی از بابت سال مالی ۱۴۰۴دارای نمبر تشخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-امور ساختمانی-۰۱۴۱-۲۵۱۰۵) از روش داوطلبی باز نوع قرارداد به اساس پرداخت فی واحد اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر آفرها اخذ میگردد و آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDویا فلش) ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات از ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل دریافت نمایند همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده واطمینان خویش را حاصل نمایند.

تضمین آفر: بشکل گرانتی بانک مبلغ(۸٦۰۰۰) افغانی میباشد.

تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست ،صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

محل آفرگشائی: تالار آفرگشائی ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد تضمین آفر، توانمندی مالی، وسایراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت مبین امین لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۸۱۵۹-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای علاو الدین فرزند نور الدین بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.
۱۱۴۷

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه حصر وراثت خط شرعی نمبر ۴۷/۲۱۳ مورخ ۱/ ۱۳۸۴/۳ مرتبه محکمه وثائق حوزه سوم به اسم انیسه بنت محمد شریف ولدیت محمد نبی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۳۵

## اطلاعیه لیلام

پشتنی بانک در نظر دارد به تعداد ۱۸۴ قلم اجناس داغمه ویک عراده موتر کرولا سمند ایرانی خویش را از طریق داوطلبی ومزایده به فروش برساند شرکت ها ویا اشخاص که خواهان خریداری اجناس فوق الذکر را داشته باشند در خواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۰۴/ ۰۳/۱۱ به مدیریت عمومی خدمات پشتنی بانک واقع پل باغ عمومی سپرده شرطنامه را مطالعه نموده خود ویا نماینده با صلاحیت شان را در مجلس داوطلبی تشریف بیاورند تضمین پانزده فیصد قبل از تدویر جلسه نقدا اخذ میگردد.۱۱٦۳

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی نمبر ۵٦۰/۳۳ مورخ ۸/ ۱۳٦۵/۴ مرتبه محکمه چهار دهی ولایت کابل به اسم محمد حنیف فرزند محمد شریف ولدیت محمد نبی جایداد واقع ناحیه پنجم خوشحال خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۲٦

---

### د کابل ښاروالۍ پراختیایي ...

په ځانګړو شویو ځایونو کې واچوي.

د کابل ښاروالۍ استازی نعمت‌الله بارکزي وايي: (( د ښار پاکوالي هغه موضوع ده چې د کابل ښاروالي هر کال او هره ورځ پرې کار کوي. د ښار په داخل کې د تنظیف لپاره ځانګړي سیستم موجود دي او ټول کارونه له ټاکلي مهالوېش سره سم پرمخ ځي، البته کابل ښاروالي د ښار د لا ښه تنظیف لپاره د ماشینرۍ پېرلو لپاره ځانګړې بودیجه په پام کې لري. موږ له ټولو ښاریانو هم غوښتنه کوو، چې د ښار په پاکولو کې له موږ سره مرسته وکړي او خپل کثافات په هغو ځایونو کې واچوي چې د ښاروالۍ له خوا ورته ټاکل شوي دي. همدارنګه خلک باید له کانالونو او ویالو د کثافتدانیو په توګه کار وا نه خلي.))

د کابل ښاروالۍ د معلوماتو له مخې، ښاروالۍ په تېر ۱۴۰۳ لمریز کال کې۱۶۰ پروژې پلې کړې دي چې یو شمېر یې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د پاتې نورو یې کارونه لاهم دوام لري.

### د ریاست الوزراء اقتصادي ...

او په دې توګه یې د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا فرصت برابر کړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همدارنګه ویلي، چې د اسلامي امارت بهرني سیاست خپلواک، مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دي او د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي.

ده زیاته کړې، چې د همدې سیاست پر بنسټ غواړي، له تاتارستان جمهوریت سره په افغانستان کې د پانګونې فرصتونو په ځانګړي ډول د انرژۍ، زېربناوو او دوه اړخیزې سوداګرۍ د پراختیا په برخه کې اړیکې پراخې کړي. نوموړي د افغانستان حالت او شرایط د پانګونې لپاره مناسب بللي او له تاتارستاني پانګوالو یې غوښتي، څو په افغانستان کې د نفتو او ګازو د استخراج او تصفیې، ساختماني پروژو، ریل پټلۍ او نورو برخو کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم د افغانستان او تاتارستان ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره غوره فرصت یاد کړي او ویلي یې دي، هڅه دې وشي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ نندارتونونه او نور اقتصادي موارد مطرح او جوړ شي، ترڅو په دې برخه کې له شته ظرفیت څخه پوره ګټه واخیستل شي. په ورته وخت کې د تاتارستان ولسمشر رستم مینیخانوف په کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون مهم بللي او ویلي یې دي، چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې د اړیکو پراخولو په موخه به تاتارستاني پلاوي کابل ته واستوي.

مینیخانوف زیاته کړې، چې اوسمهال له افغانستان سره په یوشمېر برخو کې راکړه ورکړه لري؛ خو له دې وروسته چمتو دي، چې د راکړې ورکړې کچه زیاته کړي.

په یاد مجلس کې د کاماز موټرو شرکت عمومي رئیس وویل: تاتارستان چمتو دی، چې افغانستان ته د بار وړونکو کاماز موټرو او اطفائیو صادرات زیات کړي او په دې برخه کې به د افغانستان لپاره له ولسمشر مینیخانوف څخه ځانګړې سبسایډي هم واخلي.ده زیاته کړه: غواړي په همدې موخه افغانستان ته د بازار ارزونې په موخه سفر ترسره او وروسته په دې برخه کې عملي ګامونه واخلي. په دغې لیدنه کې د تاتارستان جمهوریت د کرنې او خوراکي توکو وزیر هم شتون درلود، ده وویل: چمتو دي ،چې افغانستان ته له دې وروسته د حلالو خوراکي توکو صادرات زیات کړي.

د یادونې وړ ده، چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تاتارستان ولسمشر رستم مینیخانوف ته بلنه ورکړه، څو افغانستان ته د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا په موخه سفر وکړي.

دغه راز ، د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د کازان د ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم په څنډه کې د موردوویا جمهوریت له ولسمشر ارتیوم الکسیویچ زدونوف سره هم لیدنه وکړه. ملا عبدالغني برادر اخوند د دې لیدنې پر مهال وویل: د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنې، سوداګرۍ، برښنا او نورو برخو کې د همکاریو رامنځته کولو ښه زمینه برابره کړه. افغانستان دا مهال په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې لپاره زیات فرصتونه لري، بهرني پانګوال کولی شي په دغو سکټورونو کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: افغانستان د وچو او تازه مېوو، وطني غالیو، قیمتي ډبرو، مرمرو او نورو کاني موادو باکیفیته تولیدات لري او چمتو دي چې په دې برخو کې موردوویا ته صادرات پیل کړي. نوموړي همداراز وویل: موږ لېوال یو چې له موردوویا څخه د برښنایي وسایلو، ساختماني موادو، صنعتي ماشین الاتو، نفتي توکو، طبیعي ګاز او خامو المونیمو، ریلي واګونونو او د ټرانسپورټ د اړوندو وسایلو او تجهیزاتو په برخه کې د کورني ضرورت د رفع کولو په موخه د اړتیا اړوند واردات ولرو. ښاغلي برادر اخوند همداراز د موردوویا پانګوالو ته په افغانستان کې د صنعت، کانونو او کرنې په برخه کې د پانګونې بلنه ورکړه او هغوي ته یې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ. ورپسې د موردوویا ولسمشر ارتیوم الکسیویچ زدونوف وویل، دا لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پیل او پراختیا لپاره ښه فرصت ګڼي او موردوویایي پانګوال د افغانستان په مارکېټ کې کار کولو ته چمتو دي.نوموړي زیاته کړه: هېواد یې د طب، کرنې، انرژۍ او درملو د تولید په برخو کې ښه پرمختګونه لري او چمتو دي چې په یادو برخو کې له افغانستان سره ګډ کار وکړي.ارتیوم الکسیویچ زدونوف وویل: موردوویا د کرنیزو محصولاتو په برخه کې ډېرو هېوادونو ته صادرات لري او غواړي افغانستان ته یې هم د موردوویا-قزاقستان-ازبیکستان-افغانستان له لارې پیل کړي. موردوویایي پانګوالو همداراز په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده، چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ. د لیدنې پر مهال د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي وویل: افغانستان چمتو دی چې د خوراکي توکو، کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې له موردوویا سره په لویه کچه سوداګري پیل کړي.ښاغلي عزیزي زیاته کړه: په دې برخه کې به د افغانستان مهم شرکتونه موردوویایي لوري ته د ګډ کار کولو په موخه ورمعرفي کړي.

### د کابل او نوي ډېلي ...

په خپلولو سره ټولو لوریو سره پر مثبتو اړیکو ټینګار وکړ. مولوي امیر خان متقي همداراز افغان سوداګرو او ناروغانو ته د هند د ویزو په ورکړه کې د اسانتیاوو او په هند کې د افغان بندیانو د خلاصېدو او هېواد ته د راستنولو غوښتنه وکړه.د هند د بهرنیو چارو وزیر جې شنکر هم له افغانستان سره د هند اړیکې تاریخي وبللې او زیاته یې کړه، چې هېواد به یې له افغانستان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي او په سیاسي او اقتصادي برخو کې یې پر ګډ کار ټینګار وکړ. ښاغلي جې شنکر همدا ډول د بندیانو قضیو ته د ژر رسېدنې او د ویزو په برخه کې د اسانتیاوو راوستلو ژمنه وکړه.

دواړو لوریو د چابهار بندر پر پراختیا هم ټینګار وکړ.

### د قزاقستان د بهرنیو ...

چې هېواد یې چمتو دي په افغانستان کې د تورغونډۍ-هرات ریل پټلۍ د جوړولو په برخه کې ۵۰۰ میلیونه ډالره پانګونه وکړي. په پای کې دواړو لوریو هوکړه کړې، چې د دوه اړخیزو اړیکو د لا پرمختګ لپاره به اړیکې زیاتوي او د دواړو هېوادونو کاري ټیمونه به په کابل او استانه کې خبرو او کار ته دوام ورکوي.

### د کاسا زر پروژې ...

هوکړې لاسلیک شوې دي. یاد شرکت ویلي: دې سره به د کاسا ۱۰۰۰ پروژې پاتې کارونه لا چټک شي. د افغانستان د برښنا شرکت د عمومي اجرائیه رئیس په مشرۍ پلاوي د کاسا ۱۰۰۰ پروژې ناسته کې د ګډون په موخه تاجکستان ته تللی.د تاجکستان په کوربه‌توب دغې ناسته کې پر افغانستان، قرغزستان او پاکستان سربېره د اسلامي پراختیایي بانک او بهرنیو ادارو او بنسټونو استازو هم ګډون کړي، چې د یادې پروژې پر اوسني وضعیت، پرمختګونو، د ستونزو پر حللارو او راتلونکو پلانونو خبرې شوي. د افغانستان له لارې تېرېدونکې کاسا ۱۰۰۰ پروژه له منځنۍ اسیا څخه سویلي اسیا ته د برېښنا د لېږد له ټولو ستره د ګډو اقتصادي ګټو پروژه ده.

### فراه کې د خوارځواکو ...

او تمه ده، چې د ۷ میاشتو په موده کې به بشپړ شي. نوموړي زیاته کړې، چې د یاد مرکز په جوړېدو سره به د سیمې د خوارځواکو ماشومانو د درملنې اسانتیاوې رامنځته شي او خلکو ته به د پام وړ روغتیایي خدمات وړاندې شي.

### خوست کې د ((کوارتز)) ...

د کوارتز منرال نوي کان کشف شوی دی.

خبرپاڼه کې د خوست د کانونو د رئیس مولوي صادق جان حمزه له قوله لیکل شوي: واک ته د اسلامي امارت له راتګه وروسته په دغه ولایت کې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو د کانونو کشف پراخ شوي.خبرپاڼه زیاتوي: د یاد کان د تشخیص پرمهال د کانونو ریاست انجنیرانو ویلي، چې دا د کوارتز منرال یو بډای کان دی، چې زیاترو رګونو یې په شېلو او رسوبي ډبرو کې پراختیا موندلې ده .د معلوماتو له مخې له «کوارتز» څخه په شیشه جوړونه، د تلویزیون سکرین، لاسي ساعتونو، ګوتمیو، غاړکیو، تلسکوپ، دوربینونو او ځینو نورو برخو کې استفاده کېږي.

### هرات کې یوه کارخونه ...

کچې په لوړولو سره به راتلونکی کال له بهره د کولرو د تولید اړتیا ختمه شي. دغه راز د هرات والي نوراحمد اسلام‌جار په صنعتي ښارګوټي کې د کارخونو له تولیده د ملاتړ ترڅنګ، دې برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کېدو ژمنه کړې.نوموړي زیاته کړې چې د پانګونې د ډېرېدو لپاره به د ځمکې د وېش، د برښنا ستونزې د حل او داړینو اسانتیاوو د برابرولو برخه کې لا کار وکړي.د یادونې وړ ده چې دا مهال د هرات صنعتي ښارګوټي کې څه باندې زر کارخونې په بېلابېلو برخو کې فعالیت لري چې تولیدات یې کورنیو او بهرنیو بازارونو ته وړاندې کېږي.

### حکومت له هېواده بهر ...

نوموړي ویلي: حکومت د اغېزمن کار په موخه د خلکو همکارۍ ته اړتیا لري.بله‌خوا اهل تشیع علماوو د اسلامي نظام له کړنو د رضایت ښودلو ترڅنګ ایران کې د افغان کډوالو قانوني اسنادو او د هېواد ځینو سیمو کې راستنېدونکو ته د استوګنیزو ښارګوټو اړوند وړاندیزونه ورکړي.سره له دې، چې د هېواد بېلابېلو سیمو کې د بېرته راستنېدونکو لپاره د استوګنیزو ښارګوټو لړۍ روانه ده، مولوي عبدالکبیر د هغوی وړاندیزونو ته هم د رسېدنې ډاډ ورکړی.

### بامیانو کې یوه ښوونځي ...

د کمپیوټر او لابراتوار لپاره ۲ جلا خونې، ۲ اداري خونې، د ساتونکي کوټه، مېزونه، څوکۍ، لمریزه برښنا، د اوبو سیستم، احاطه او نور اړین محلقات لري.

د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم د یاد ولایت په یو شمېر نورو ولسوالیو کې ورته ودانۍ جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

### بغلان کې د برښنا ستنو ...

نظري زیاته کړه، چې یاده فابریکه کې له معیار سره سم په لوړ کیفیت لس، دولس او پنځلس متره ستنې تولیدوي، چې ورځ تر بلې یې د بازار تقاضا زیاتېږي.

د اقتصادي چارو شنونکي دا پرمختګ مثبت ارزوي او وايي، که چېرې دا فابریکه له دولت څخه دوامداره ملاتړ ترلاسه کړي، نو نه یوازې د هېواد دننه اړتیاوې به پوره کړي، بلکې د صادراتو لپاره هم پراخې هڅې کولای شي.

### د څه باندې ۸۴۳ میلیونو ...

پنځوسګون، سلګون، پنځه‌سوه‌ګون او زرګون شاملې وې چې د ټاکل شوي پلاوي له دقیقې شمېرنې او څارنې وروسته سوځول شوې دي. د افغانستان بانک دویم مرستیال ملا محمد آخند، د یادو بانکنوټونو د سوځولو پر مهال ویلي دي: ((د افغانستان بانک د راکړو ورکړو د اسانتیاوو لپاره وخت په وخت مندرس بانکنوټونه له بازار څخه راټولوي او د نویو او سالمو بانکنوټونو په وړاندې کولو سره، هېوادوالو ته اړیني اسانتیاوې برابروي.)) ده له هېوادوالو څخه غوښتنه کړې چې د افغانیو بانکنوټونو د ښې ساتنې لپاره جدي پاملرنه وکړي، څو د بانکنوټونو له بې‌وخته زړېدو او د بیا چاپ له لګښتونو څخه مخنیوی وشي.

هېره دې نه وي چې دوه اوونۍ وړاندې هم د افغانستان بانک، د ٦٦۰ میلیونه ۷۰۰ زره افغانیو په ارزښت، مندرس بانکنوټونه د هېواد په لوېدیځ زون (هرات) کې سوځولي وو او د مندرسو بانکنوټونو د راټولولو او له ګردښت څخه د ایستلو لړۍ د هېواد په ټولو زونونو کې روانه ده.

### د افغانستان او روسیې ...

پانګوالو هم په مختلفو سکټورونو کې پانګونه کړې او دا چاره په ښه ډول روانه ده. نوموړي زیاته کړه: د هېواد د بیارغونې په موخه په مختلفو سکټورونو کې لویې او کوچنۍ پروژې پیل شوې دي. د یادو پروژو چارې د اسلامي امارت تر څنګ د کورنیو او بهرنیو شرکتونو له لوري پر مخ وړل کېږي. د ریاست‌الوزراء قتصادي مرستیال وویل: اسلامي امارت د زېربنایي پروژو پر پیل سربېره د سوداګرۍ پراختیا ته هم پاملرنه کړې او غواړي سیمې او لرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو لپاره زمینه برابره کړي. روسیه د افغاني تولیداتو او محصولاتو لپاره یو ښه بازار دی، افغانستان په دې برخه کې د اسانه شرایطو د رامنځته کېدو غوښتنه کوي.ښاغلي برادر اخوند همداراز زیاته کړه: اسلامي امارت چمتو دی چې له روسیې او منځنۍ اسیا سره د سوداګرۍ او ټرانزیټ د پراختیا په موخه د سالنګ دویم تونل وباسي. په دې برخه کې د روسیې فدراسیون تجربې ته په کتو د سالنګ د دویم تونل د ایستلو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه کوي. ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان-روسیې د لومړي سوداګریز فورم په پرانیستغونډه کې یوځل بیا په شمال-جنوب دهلیز کې د افغانستان پر ونډې اخیستو او همداراز د افغان-ټرانس پروژې په پیل او پلي کېدو کې د روسیې فدراسیون پر همکارۍ ټینګار وکړ او ویې ویل: (( موږ لېوال یو چې افغانستان د دې دهلیز په تقویت او په سیمه‌ییز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري.)) ورپسې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال وویل: روسیه د باثباته او پرمختللي افغانستان طرفداره ده او دا د ټولې سیمې په ګټه بولي. د نوموړي په خبره، د افغانستان وضعیت د بهبود لوري ته روان دی او په کازان ۱۶م فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون ثابته کړه، چې افغانان په سوله کې ژوند غواړي او په سوله‌ییزه فضا کې د اقتصادي مسایلو پرمخ بیولو ته چمتو دي.الکسي اویرچوک زیاته کړه: روسي شرکتونه چمتو دي، چې له افغانستان سره د کانونو ایستنې، د اوبو بندونو جوړولو، د برښنا تولید، د وسپنې پټلۍ د شبکو غځولو، د ټرانسپورټي وسایلو د تولید او همداراز د سیمه‌ییز اتصال او سوداګرۍ کچې د زیاتېدو په برخه کې ګډ کار وکړي. ښاغلي اویرچوک وویل: د مسکو او کابل ترمنځ د ګډ سوداګریز مرکز د رامنځته کېدو هوکړه لاسلیک شوې، دوي هیله لري چې دا به د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ نوي شرایط او له موجودو امکاناتو به د استفادې لپاره ښه زمینه برابره کړي. د روسیې د ګمرکونو مسئول وویل: د ځانګړو اسانتیاوو او په ګمرکي تعرفو کې د پام وړ تخفیفونو په پام کې نیولو سره چمتو دي چې له افغانستان څخه د کرنیزو محصولاتو واردات زیات کړي. نوموړي زیاته کړه: غواړي له افغانستان سره د سوداګریزو اصولو ساده کولو، د سوداګریزې بیروکراسۍ له منځه وړلو او په ګمرکونو کې د ځانګړې همکارۍ او کار کولو په موخه پروتوکول رامنځته کړي. په غونډه کې د روسیې فدراسیون د ټرانسپورټ وزارت مرستیال د افغانستان له لارې د روسیې د ټرانزیټ کچې زیاتېدو ته لېوالتیا وښوده او ویې ویل: په دې برخه کې د افغان-ټرانس پروژه ډېره مهمه ده، چې روسي او ازبیکستاني تخنیکي ټیمونه پرې ګډ کار کوي او هدف دا دي چې ژر یې عملي چارې پیل شي .په دې برخه کې اسلامي امارت له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ. د افغانستان-روسیې د سوداګریز فورم په پرانیستغونډه کې د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال او د صنعت او سوداګرۍ وزیر هم حضور درلود. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال د خپلو خبرو پرمهال وویل: د موټر جوړولو تاتارستاني شرکتونه چمتو دي چې په افغانستان کې کار وکړي .تاتارستان چمتو دي چې په دې برخه کې د حکومتونو په کچه د ګډې همکارۍ تړون له افغانستان سره لاسلیک کړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په برخه کې دا ډول اقتصادي فورمونه مهم وبلل او پر دوام یې ټینګار وکړ.

ټاکل شوې چې د کابل او مسکو ترمنځ به د سوداګرۍ کچې زیاتېدو په موخه د کازان ۱۶م فورم په څنډه کې د دواړو هېوادونو د سوداګرو ترمنځ مهم تړونونه هم لاسلیک شي.

### ټرمپ د شیخ زاید جومات ...

ټرمپ د یاد جومات د لیدو پرمهال ویلي: (( دا د حیرانتیا وړ فرهنګ دی. ډېر ښکلی دی. دا زما او امریکا لپاره د ویاړ ځای دی. راځئ چې دا هېواد ته ډالۍ کړو؛ دا لوی درناوی دی. زه پر خپلو ملګرو ویاړم.)) ټرمپ منځني ختیځ ته خپل سفر پای ته ورساوه او له سعودي عربستان، قطر او عربي متحدو اماراتو سره یې د یاد سفر پرمهال د میلیاردونو ډالرو هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړل.

### د کوه صافي ولسوالۍ ...

بلکې له عمومي سړک سره د دې سیمې نښلول به د نورو پلانونو او پروګرامونو د پلي کېدو او د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره هم زمینه برابره کړي.د یادونې وړ ده چې په جوزک کلي کې تر زرو زیاتې کورنۍ اوسېږي او د دغه سړک په جوړېدو سره یې ټرانسپورټي ستونزې حل شوې دي.

### افغانستان له نړۍ سره ...

په هرحال، اسلامي امارت د توازن او اقتصاد پر بنسټ سیاست خپل کړی دی. دا یو مهم بدلون دی، چې د سیمې هېوادونه هم ورته خوشبین دي او د پانګونې، ټرانزیټ او سوداګرۍ په برخه کې د ښې راتلونکې نښې ښکارېږي. افغانستان نور هغه پخوانی هېواد نه دی چې د شخړو او جګړو له امله منزوي پاتې شوی و، بلکې اوس یو نوی افغانستان راټوکېدلی، چې د سولې، همکاریو، اقتصادي ودې او متقابل باور بنسټ یې ایښی دی.اسلامي امارت دا دریځ عملاً ثابت کړی چې نه د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې مداخله کوي او نه د کوم زیان وړ رسولو فکر کوي، بلکې د ټولو لپاره نېک او رغوونکی نیت لري.

اوس نړۍ دا درک کړې چې افغانستان یو نوی واقعیت لري او یو خپلواک، متحد او باعزته هېواد دی چې له نورو ملتونو سره د تفاهم، همکاریو او درناوي له لارې د پرمختګ لارې لټوي. دا یو مثبت بدلون دی، چې هم د افغانانو د قربانیو پایله ده او هم د موجود حکومت د تدبیر او اصولي دریځ ثبوت. نړۍ ته دا فرصت په لاس ورغلی چې له افغانستان سره د برابرو، باثباتو او دوامدارو اړیکو بنسټ کېږدي او یو نوی فصل پرانیزي.

و من الله التوفیق

# Hewad Daily

دورځپاڼو رئيس : انجنير عُزير «بريالی»
موبايل : ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدير : شبير احمد عثماني
موبايل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبايل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحيه، د المپيک څلورلارې، د حضوري چمن ختيځ، کابل افغانستان
داړيکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهيوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ويب سايټ له لارې هم کتلی شئ
ويب سايت: www.hewaddaily.com
دشکاياتو اوتوزيع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

شنبه د ذوالقعدة الحرام۱۹ مه ۱۴۴۶ ق کال د ۱۴۰۴ ل کال د غويي ۲۷ مه د 2025 م کال د مې 17 مه


## د افغانستان او روسيې ترمنځ سوداګريز فورم پرانيستل شو



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسيې د لومړي وزير مرستيال الکسي اويرچوک پرون د کازان د ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم په څنډه کې د افغانستان-روسيې لومړی سوداګريز فورم پرانيست. ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سوداګريز فورم د پرانيستې پر مهال وويل: د اسلامي امارت له راتګ وروسته په افغانستان کې سياسي ثبات ټينګ شوی، اقتصادي فعاليتونو پراختيا موندلې، سوداګري پراخه شوې او د کورنيو پانګوالو تر څنګ بهرنيو ... ۳مخ

## حکومت له هېواده بهر افغان کډوالو ته د اړتيا وړ اسناد چمتو کوي



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزير مولوي عبدالکبير د بېلابېلو ناستو پرمهال اهل تشيع علماوو سره د کډوالو پر ستونزو د خبرو ترخنګ د هغوی وړانديزونه اورېدلي.مولوي عبدالکبير ويلي: اسلامي امارت د کډوالو ستونزو ته پاملرنه کوي او اړوندو ادارو ته يې له هېواده بهر د افغان کډوالو لپاره د اړتيا وړ اسنادو د چمتو کولو سپارښتنه کړې... ۳مخ

## د پاکستان له زندانونو ۵۰ تنه افغانان خوشې شول



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د پاکستان له زندانونو څخه د ۵۰ افغان اتباعو د خوشې کېدو خبر ورکړی او ويلي يې دي، چې دوی د سپين بولدک له سرحدي لارې افغانستان ته رانوتلي دي. په اعلاميه کې ويل شوي چې د دې کسانو د لېږد او هرکلي پروسه د ولايتي او مرکزي کچې د مسئولو ادارو په همکارۍ ترسره شوې او په ټولنه کې د دوی د بيا يوځای کېدو لپاره به اړينې مرستې چمتو شي. په وروستيو مياشتو کې، راستانه شوي دي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت پرون يوه اعلاميه خپره کړې او پکې ويل شوي دي: ۵۰ افغان اتباع چې د پاکستان په مختلفو زندانونو کې بنديان وو، خوشې شوي او هېواد ته را لېږدول شوي دي. د وزارت په وينا، دا اشخاص د اداري او قانوني کارونو لهبشپړولو وروسته د سپين

په پاکستان کې د افغان کډوالو د نيولو ډېري قضيې راپور شوي، چې ډېری يې د قانوني استوګنې د اسنادو د نه درلودلو يا له اسنادو پرته له پولې څخه د تېرېدو له امله دي.د بشري حقونو سازمانونو او د کډوالو د ساتنې سازمانونو په وار وار د پاکستان له حکومت څخه غوښتنه کړې چې له افغان کډوالو سره انساني او له نړيوال قانون سره سم چلند وکړي. په ورته وخت کې، افغان حکومت هڅه کوي چې د ډيپلوماسۍ او تفاهم له لارې د دوی د راستنېدو لپاره لاره هواره کړي.

## باميانو کې يوه ښوونځي ته وداني جوړه شوه



د باميانو ولايت په يکاولنګ نمبر يک ولسوالۍ کې د (غارک پس‌رويه ها) نجونو ابتدائيه ښوونځي ته وداني جوړه او د دغه ولايت د والي مولوي عبدالله سرحدي له لوري ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د يادې ودانۍ د پرانيستې په مراسمو کې د باميانو والي مولوي عبدالله سرحدي له زده‌کوونکو وغوښتل، چې د تعليم او لوړو علمي او مسلکي درجو د ترلاسه کولو لپاره هڅې وکړي.

نوموړي د خلکو ترمنځ د يووالي، ورورولۍ او اسلامي ارزښتونو پر پياوړتيا ټينګار وکړ.

ورته مهال په افغانستان کې د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د عملياتي برخې مرستيال محمد زبير ابراهيم وويل، چې دغه ودانۍ د يو.ان.سي.اچ.آر په مالي ملاتړ د ۲۲ ميليونو افغانيو په لګښت جوړه شوې، چې ۶ درسي خونې... ۳مخ

## کندهار کې ۳۵ متره ژورې برمې ته لوېدلی ماشوم وژغورل شو

د کندهار ولايت ځايي مسئولينو د دغه ولايت په دامان ولسوالۍ کې يوې ژورې برمې ته د لوېدلي ماشوم د ژغورلو خبر ورکړی دي.

سرچينې باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې د کندهار ولايت د دامان ولسوالۍ د زړهېکلا په سيمه کې يو کوچنی ماشوم د پنجشنبه په ورځ ۳۵ متره ژورې برمې ته لوېدلی و، چې د ولايت د مقام، امنيه قوماندانۍ او د عامې روغتيا رياست د ګډو ټيمونو په هڅو وژغورل شو. په کندهار کې د ميرويس حوزوي روغتون مسئولين زياتوي، چې د ماشوم روغتيايي وضعيت د ډاډ وړ دی او له اړينو معايناتو وروسته بېرته خپل کور ته لېږدول شوی دی.

د سيمې خلک د ژغورنې ټيمونو د چټکو او اغېزمنو هڅو ستاينه کوي.

## بدخشان کې د بهرنيو چارو رياست د ودانۍ نيمګړې چارې بشپړې شوې




په بدخشان کې د بهرنيو چارو رياست د ودانۍ پاتې ۳۰ سلنه چارې د څه باندې ۳ ميليونه افغانيو په لګښت بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د يادې ودانۍ د پرانيستې په مراسمو کې د بهرنيو چارو وزارت مالي او اداري معين ډاکټر محمد نعيم وردګ ويلي چې که څه هم پخوا مالي امکانات ډېر وو، خو د پراخ اداري فساد له امله اساسي پروژې نه وې عملي شوې. نوموړي زياته کړه، چې اوسني نظام د ملي ارادې پر بنسټ د حکومتي بنسټونو د پياوړتيا او ودې لپاره چټک ګامونه اخلي او حکومت او ملت بايد د هېواد د بيا رغونې لپاره يو موټې کار وکړي.

ورته مهال، د بدخشان د بهرنيو چارو رئيس نعمت الله نادري وويل چې د دې ودانۍ د بنسټ ډبره د ۲۱ ميليونو افغانيو په لګښت په ۱۳۹۷ لمريز کال کې اېښودل شوې وه، خو پاتې چارې يې سږکال د ۳ ميليونه ۸۶۰ زره افغانيو په لګښت بشپړې شوې دي.


د يادونې وړ ده چې ياده وداني په درېوو پوړو کې پر يو نيم جريبه ځمکه جوړه شوې ده. باختر

## له حضرت اسامه بن زيد اکاډمۍ څخه ۱۶۵ افسران فارغ شول

د ملي دفاع وزارت ويلي، چې د حضرت ابوعبيده بن جراح رض د ملي دفاع پوهنتون د حضرت اسامه بن زيد له نظامي اکاډمۍ څخه ۱۶۵ تنه افسران فارغ شوي دي.ويل کېږي چې دغه افسران له ۶ مياشتنيو مسلکي زده کړو وروسته فارغ شوي دي.په يادو مراسمو کې د ملي دفاع وزارت د تعليماتو او پرسونل معينيت مرستيال، د ملي دفاع پوهنتون قوماندان او ګڼو نورو مسئولينو برخه اخيستې وه.

تازه فارغو شويو ځوانو افسرانو له خپل نظام څخه دفاع او ساتنه د ځان مسئوليت ګڼلې او په وينا يې د اسلامي نظام په پار به له هېڅ سرښندنې دريغ ونه کړي.

## ټرمپ د شيخ زايد جومات د ليدنې پرمهال د اسلامي فرهنګ ستاينه وکړه



د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د عربي متحدو اماراتو په ابوظبي کې «شيخ زايد جومات» ته ورغی او هلته يې، د اسلامي فرهنګ ستاينه کړې ده. نيويارک پسټ پرون په يوه راپور کې ويلي، چې ټرمپ د عربي متحدو اماراتو له وليعهد خلدون خليفه المبارک سره يوځای دغه جومات ته ورغلی و.په راپور کې ويل شوي، چې د ټرمپ په ورتګ سره، دغه جومات د يوې ورځې لپاره د لمونځ کوونکو پرمخ تړل شوی و... ۳مخ

## د څه باندې ۸۴۳ ميليونو افغانيو په ارزښت مندرس بانکنوټونه وسوځول شول



د افغانستان بانک، د څه باندې ۸۴۳ ميليونو افغانيو په ارزښت د مندرسو بانکنوټونو د سوځولو خبر ورکړی دی. د افغانستان بانک په خپره شوې خبرپاڼه کې ويل شوي چې دغه بانک د پولي راکړو ورکړو په برخه کې د آسانتيا رامنځته کولو او له ګردښت څخه د مندرسو بانکنوټونو د ايستلو په موخه، د هېواد په شمال زون کې د ۸۴۳ ميليونو ۴۳۰ زره افغانيو په ارزښت مندرس بانکنوټونه وسوځول. په يادو بانکنوټونو کې د افغانيو لسګون، شلګون... ۳مخ

## بغلان کې د برښنا ستنو د توليد فابريکې په تېرو ۳ کلونو کې څه باندې ۱۷۰۰۰ ستنې جوړې کړي



د بغلان ولايت د برښنا د ستنو جوړولو فابريکه، چې د افغانستان د زيربنايي پروژو لپاره يوه له مهمو صنعتي مرکزونو څخه ګڼل کېږي، په تېرو درېوو کلونو کې يې د بېلابېلو اندازو ۱۷ زره ۲۰۰ د برښنا ستنې توليد کړې دي. د يادې فابريکې آمر مولوي نقيب‌الله نظري باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي چې د دغې فابريکې د توليد کچه د تېرو کلونو په پرتله لوړه شوې او د محصول کيفيت يې هم ښه شوی دی. د نوموړي په وينا، يادې فابريکې په ۱۴۰۱ کال کې ۳۲۰۰، په ۱۴۰۲ کال کې ۶۰۰۰ او په ۱۴۰۳ کال کې ۸۰۰۰ د برښنا ستنې جوړې کړې دي... ۳مخ